سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۱/۳۰

# حــوصــلــه

راغلي مي ده خولي ته، ستا کتو ځني توبه

پښـتون يـم خـڅکه وکړمه، پښتو ځنــي توبه

وعده مـی کړی تا سـره، د میني او وفا

اوس نه کيږی اشـنـا، تيرو شيبو ځنی توبه

درکړی می پخوا دی، په اخلاص ددوستی لاس

شي ګـرانه په دوستی کی، تلوراتلوځني توبه

هر ځل يی تير وتلی، د اغيارو په لمسون

تا ونــه کـړه ترنــنــه، تيـروتــو ځـنـي تـوبـه

ړانـده نه هم ورکيږی، يوکرت دلاس امسـآ

بينا يی خو ته نکړی، ورکيـدو ځني توبه

ښـکاريږی راته داسی، پرسولی يی غماز

چی نه کوی بی عقـلـه، ګنـاهـو ځـنـي توبه

نو پوه شه! نوره نشته، حوصـلـه د کلیوال

کـوي در سره يوځای، اوسـيدو ځنې توبه

تورنتو ــ کاناډا - نومبر/۲۸/۲۰۱۸

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و سروده های دیگری از این شاعر معزز را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!